د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د پالیسي پاڼو لړۍ

# په افغانستان کې د انتقالي عدالت وضعیت

ایمیلی ونتربتم

د ۱۳۸۹ کال د وري میاشت

## سریزه

د ۳۰ کلنې جګړې په اوږدو کې د افغانستان ولس د له مینځه تللو، کړونې، ډله ایزو اعدامونو،کورنیوشخړو، کورنیو بېځایه کېدنې او پاکستان، ایران او نورو هیوادونو ته د جبري مهاجرتونو شاهدان وو. کابو هرافغانان د اخ ودب، کړاو او زیانمن کېدو کیسې د ویلو لپاره لري.[1]

د جګړې له پای ته رسیدو سره سم، ملت او نړیوال فعالین د "انتقالي عدالت "له ستونزې سره مقابله پیل کړه څو د جګړې د دوران پراخو تېریو میراث په نښه او حساب ورکونه تضمین، عدالت تامین، پخواني دښمنان سره بیا پخلا، او تلپاتې سوله تامین کړې. د نړیوالو قوانینو پراختیا په دې هکله چې عامه وژنې، جنګي جرمونه او بشري ضدجرمونه باید بې سزاپاتې نه شي د نړیوالو د مخ پر ودې د نظر یوالی څرګندوي.[2] د تاوتریخوالي څخه ډکو شخړو په ختمولو کې ښکیلو ډیپلوماټانو او مذاکره کوونکو دایې تایید کړه چې په دوامداره توګه د جنګي جرمونو څخه سترګې پټول د جزا څخه د معافیت فرهنګ دایمي کوي او کیدای شي چې په راتلونکې کې تیري نورهم وهڅوي.[3]

د تاوتریخوالي د اندازې او دوام سره سره، په افغانستان کې د جګړو په هر یو پړاو کې د تیرو جرمونو لپاره ځواب وینه نه وه. په ۱۳۸۰ کال کې د بُن د تړون له لاس لیکیدو راهیسې دافغانستان حکومت له خوا په هیواد کې د انتقالي عدالت د بهیرد پلي کیدو لپاره همغږې هڅې نه دي تر سره شوې. د هغې پر ځای د حکومت چارواکي او ځینې نړیوال فعالین دا سې استدلال کوي چې د عدالت پلي کول به سوله کمزوره کړي.[4] په پای کې په جنګي جرمونو ځیني تورن کسان لا تر اوسه هم پر حکومتي جوړښتونو حاکم دي. د تاوتریخوالي د پای ته رسیدو لپاره د تیر وخت نه د لنډ مهاله سترګو پټولومنطق ښایي ارزښتناکه وي. سره له دې واقعیت خو دا د ی چې جګړه ختمه نه ده. انتقالي عدالت یواځې د تیرو جرمونو دپه نښه کولو لپاره نه دی بلکې رواني عفوې سره هم

### د لیکوال په هکله

ایمیلي وینتر بوتم دافغانستان د څیړنې او ارزونې په اداره کې د انتقالي عدالت په هکله څیړنه کوي. هغې تر دې وړاندې ددې موضوع په هکله په وسنیا هرزه ګوینیا کې څیړنه کړې ده او هغې د نړیوال سیاست په برخه کې د لندن د اقتصاد له پوهنځي څخه یې ماسټري ترلاسه کړې ده.

### د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

دافغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسي پورې اړوندو څیړنو له لارې پرپالیسی او چارومثبتې اغیزې دي او د څیړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څیړنې پایلې په چټکه توګه خپروي.

### پته:

د ګل پلورلو سړک (د دوهمي کوڅې کنج)، نوی ښار، کابل

ټلیفون: ۰۷۹۹ ۶۰۸ ۵۴۸

ویب پاڼه: www.areu.org.af

برښنالیک: areu@areu.org.af

معامله کوي کوم چې حکومت او د بلواګرو ضد هڅې یې بې اعتباره کړې او د هغې پر وړاندې یې خنډ را مینځ ته کړی.

دغه پالیسي پاڼه د هغو مرکو څخه چې د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې د انتقالي عدالت د څیړنې د یوې برخې په توګه ترسره شوې، اخیستل شوې ده، اود دریومهموفعالینود وروستیو پالیسیو پرکړنلارو،فعالیتونو او هیلو تمرکز کوي: افغان حکومت،نړیواله ټولنه ( ډیپلوماټان او مدني ټولنه)، اوافغان مدني ټولنه. د پالیسی د اوسنیو شرایطو دغه بیا کتنه څرګندوي چې د انتقالي عدالت موضوع د قانع کوونکې دلیل څخه پرته په افغانستان کې د سیاسي اجندا څخه هیره شوې ده.

## د افغانستان پر خلکو تمرکز

د افغانستان خلک هیڅ کله د جنګي جرمونو لپاره دمنظم عدالت تجربه

---

[1] د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون (AIHRC) له خوا په ملي کچه د سلامشورو په بهیر کې ، نږدې ۷۰٪ مرکه شوو کسانو څرګنده کړه چې دوی او ددوی کورنۍ د د جګړې په بهیر کې د بشري حقونو څخه د سرغړونې قربانیان وو. AIHRC، د عدالت لپاره غوښتنه: په افغانستان کې د تیرو بشري تیریو په اړه ملي سلامشوره (کابل: AIHRC، ۲۰۰۵) ،۸.

[2] د ملګرو ملتونو له خوا د جنګی جرمونو دځانګړې محکمې را مینځ ته کیدل، د جرمونو د نړیوالې محکمې تاسیس (ICC)، او د ځینو هیوادونو د قضائیه قوې تنظیم څو د پولو څخه بهر د نړیوال قضایي صلاحیت د په کارونې له لارې عمل وکړي او د تیرو جرمونو د تایید لپاره یو قانوني بنسټ رامینځ ته کړي او خلک مسوول وګڼي.

[3] د بی رحمی سره توافق، د نیل کربتز لیکنه: په قوانینو او معاصرو ستونزو کې د بشري حقونو څخه د ډله ایزې سرغړونې د حساب ورکونې د میکانیزمونو بیا کتنه،۵۹، ۱۲۷ شمیره(۱۹۶۶): ۱۲۷.

[4] د انتقالي عدالت لپاره د یو نړیوال مرکزاستازې وویل، کابل، د ۱۳۸۸ کال د مرغومې۲ نیټه،(د ۱۳۸۱-۱۳۸۴ پورې، دپالیسۍ د مهمو فعالینو نظر دا ؤ چې پر انتقالي عدالت او د قانون پر واکمنۍ تمرکز به امنیت کمزروی کړي.

نه لري. د هغې پر ځای قربانیان دبشري حقونوپخواني سر غړونکې په خپل حکومت، ټولنه او پر تلویزیون ویني. سر بیره پردې د افغانستان قربانیانو ته په پراخه توګه د حکومت له خوا پاملرنه نه ده شوې ، که څه هم چې د مدني ټولنې سازمانونو د جګړې د قربانیانود یادولو په موخه د یو رسمي بهیر لپاره یې د ملاتړ څرګندونه کړې ده.

د بیلګې په توګه په ۱۳۸۶ کال کې په بدخشان کې د یو ډله ایز ګور د رابر سیره کیدو وروسته ولسمشر کرزي ژمنه وکړه چې په دې ځای کې به یویاد ګاري ځلی جوړ کړي. خو کله چې په ۱۳۸۷ کال کې دغه ځلی د مدني ټولنې په نوښت جوړ شو چې په دې حکومت ښکیل نه ؤ.[5] همدا شان د ۱۳۸۸ کال په پای کې په بدخشان کې د جګړې موزیم هم د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون په مشرۍ رامینځ ته شو چې حکومت په کې یې برخه نه درلودله.

د قربانیانو له کړاونو او رنځونو څخه سترګې پټول ښایي په پای کې سختې او اوږد مهالې پایلې ولري. په افغانستان کې ځینې نړیوال کار پوهان د هغو شواهدو په هکله استدلال کوي چې ښنه او پر عدلي ادارو د باور نشتوالی د بلواګرۍ د هڅونکې په توګه عمل کوي.[6] که چیرې د افغانستان قربانیان هیرشي، دا د دوی غوښتنه او غږدی چې باید پرې بحث وشي. د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې د "په افغانستان کې د جګړې میراثونه: عدالت، بیا پخلاینه او مخ ته پرتې لارې"پروژه هڅه کوي څو د ژورې کیفیتي څیړنې له لارې د انتقالي عدالت د کمزورې بهیر سره مرسته وکړي څو دا په ډاګه کړي چې د خلکو له نظره"عدالت"، "سوله"،او بیا پخلاینه څه مفهوم لري. په دې توګه، ددېم وخه د نظرونوراغونډول دي څو هغه ستراتیژۍ او میکانیزمونه مشخص کړي چې ټولنې ته د وړاندې تګ اجازه ورکوي .هغه څیړنه چې د ۱۳۸۸ کال په وروستیو کې پیل شوې ده په څلورو ولایتونو (کابل، بامیان، بدخشان او غزني) کې به تر سره او د ۱۳۹۰ کال په پای کې به پای ته ورسیږي. لومړنۍ موندنې څرګندوي چې آن د یوې واحدې ټولنې افغانان د عدالت په اړه اود عدالت غوښتنې، سولې او بیا پخلاینې په اړه بیلابیل تعبیرونه لري. نړیوالې ټولنې اکثراً اصطلاحات یې رته له دې چې دا په پام کې ونیسي چې آیا د افغانستان له شرایطو او د افغانانو له کلتور او ارزښتونو سره اړخ لګوي دې هیواد ته یې رالیږدولې دي.[7] د وړاندې تګ په موخه د لارو مشخصول چې څوک باید په راتلونکې حساب ورکونه او د بیا پخلاینې بهیرکې مهم فعالین وي د عامه افغانانو سره دوامدارې سلامشورې ته اړتیا لري.

## د پالیسۍ چاپیریال

افغانستان د واړه په هیواد کې د سولې، بیا پخلاینې او عدالت لپاره یوملي کاري پلان( ۱۳۸۴ )( کاري پلان) او د ملي بیا پخلاینې، عامه ښښنې او ملي ثبات په اړه یو قانون لري (۱۳۸۶ )( د ښښنې قانون).[8]

[5] د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون کمیشنر نادر نادري.

[6] په افغانستان کې عدالت او د بلواګرۍ پر وړاندې مبارزه، د فرانک لید ویج لیکنه وګورئ: یوه له لاسه وتلې اړیکه، روسي ژورنال ۱۵۴، شمیره. ۱، ( د ۱۳۸۸ کال د سلواغې میاشت)؛ او ICJT ، افغانستان: د ملګرو ملتونو د بشرد حقونو د شورا پنځمې نړیوالې نوبتي غونډې ته: د مې د میاشتې ۴-۱۵، ( د ۱۳۸۷ کال د لړم ۱۳)

[7] د بیلګې په توګه د انا لارسن، د یوې افغاني ډموکراسۍ پر لور وګورئ( کابل: د افغاستان د څیړنې او ارزونې اداره ۱۳۸۸)

[8] ملي جریده ۹۶۵ شمیره، د ۱۳۸۷ کال د لیندۍ۱۳. د ښښنې قانون په ۱۳۸۶ کال کې تصویب

هغه کاري پلان چې تاوده بحثونه پرې روان وو د کابینې له لورې په ځیر سره تصویب شو، او د وخت په سیاسي اجنډا کې د انتقالي عدالت موضوع یې وهڅوله.[9] وروسته بیا دا د۱۳۸۵ کال د افغانستان په ترون او۱۳۸۷ کال د افغانستان په ملي پراختیايي ستراتیژۍ (ANDS) کې شامل شو. لا تر اوسه دغه کاري پلان نه دی پلې شوی.[10] د هغو فعالیتونو د تر سره کولو لپاره وروستۍ نیټه چې په دې کې ټاکل شوې وه د ۱۳۸۷ کال د کب په میاشت (۲۰۰۹ مارچ) کې پای ته ورسیده او ولسمشر کرزي ددې ضرب الاجل د بیا غځولو لپاره د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون او د مدني ټولنې د ډلې غوښتنه یې رد کړه. سر بیره پردې د AREU مرکې د ملي او نړیوالو فعالینو سره وښودله چې ددې پلان په اړه پوهه په هغو وزارتونو کې چې ددې د پلې کیدو دنده پر غاړه لري او د نړیوالې ډیپلوماتیکې ټولنې د ځینو غړو په مینځ کې کمزورې ده. که څه هم چې ګن شمیر نړیوال او کورني ځواب ویونکې لا تر اوسه فکر کوي چې دا مدني ټولنې او نړیوالې ټولنې ته د انتقالي عدالت سره د مرستې لپاره یو کاري چوکاټ برابروي. لکه چې د مدني ټولنې یو نړیوال ځواب ویونکي یادونه وکړه، "هر څومره مودې لپاره چې فعالیتونه نه پلې کیږي، کاري پلان به پرځای وي. "

که څه هم چې کار ي پلان ښښنه یې رد کړې ده، خو دا په ۱۳۸۶ کال کې د ملي شورا له خوا د ښښنې د قانون د تصویب پر وړاندې د یو تضمین په توګه پاتې راغی.[11] ځکه چې د بشري حقونو څخه د سرغړونې تورنو کسانو ته چې اوس هم ځواک لري دا د یو ډیر تر سیاسي اهمیت درلودونکی دی چې وروسته له دې چې د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ په میاشت کې په رسمي جریده کې خپورو شو نور هم روښانه شو. دغه قانون د هغو کسانو له حقونو څخه ساتنه کوي څو په محکمه کې د هغو وګړو پر ضد تورونه وارد کړي (کوم چې احتمال نه لري چې قرباني/ مجرم ته برابر ځواک ورکړل شي) خود یو قرباني له خوا د شکایت د نه شتون په صورت کې، افغان چارواکې د جنګي جرمونو په تور د تورن کس د تعقیب څخه منع کړای شوې دي. دا کار حکومت ته اجازه ورکوي څود مجرم د پلټلواوتعقیب لپاره د خپلومسوولیتونولورې ته بدلون ورکړي. سربیره پردې لکه چې یو نړیوال کار پوه څرګنده کړې ده، قانون د انتقالي عدالت د پلې کیدو میکانیزم پیچلی کوي.

## نړیوال مسوولیتونه او د انتقالي عدالت غبرګون

د بشر د حقونو د نړیوالو لوزنامو د منلوله لارې ، حکومت دا مسوولیت لري څو کورني اقدامات او قوانین چې ددوی د لوزنامو، مکلفیتونواو دندو سره سمون ولري تر سره کړي. د افغان حکومت یو لړ اړوندې

شوی خو د ۱۳۸۸ کال تر پایه په رسمي جریده کې نه تر سترګو کیده، په داسې حال کې چې نیټه یې ۱۳۸۷ کال ؤ.

[9] یادشوې کاري پلان کې پنځه مهم فعالیتونه خلاصه شوې دي: سمبولیک اقدامات،سازماني سمون، د حقیقت په لټه کې ، د بیا پخلاینې او حساب ورکونې اقدامات

[10] یواځینی کار چې تر سره شوی د ولسمشر د سلاکار پلاوې رامینځ ته کیدل او د قربانیانو ورځ ده.

[11] " که ټول سیاسي اړخونه او مخالفې ډلې چې د لنډ مهالې ادارې له جوړښت څخه وړاندې په جګړه کې ښکیل وو" او "هغه وسله وال خلک چې د افغانستان د حکومت پر ضد دي، که چیرې ددې قانون له تصویب څخه وروسته له مخالفت څخه لاس واخلي او د ملي پخلاینې له بهیر سره یو ځای شي او اساسي قانون او د افغانستان د اسلامي جمهوریت نورو قوانینو ته درناوی وکړي" نو ددوی ښښنه به تضمین شي. ددې قانون دري ژباړه د عدلیې وزارت په ویب پاڼه کې د لاس رسۍ وړ ده: http://www.moj.gov.af/OGs/OfficialGazette/ Browse/Dari/OG_0965.htm.

لوزنامې[12] يې منلې دي او په دې توګه باید په افغانستان کې د انتقالي عدالت د پلې کیدو لپاره لومړني مسوولیتونه پرغاړه واخلي. که څه هم چې د امنیت خرابیدل" دعدالت څخه وړاندې دسولې" د استدلال د لا خپریدو لامل کیږي، او د انتقالي عدالت او د کاري پلان هڅونه سیاسي اجندا لا نوره هم له خپلې اصلي لارې څخه لیرې کوي. سر بیره پردې د ۱۳۸۸کال د ولسمشریزو ټاکنو بهیرد سیاسي نخبه ګانو په مینځ کې د بشري حقونو څخه د سرغړونو په تور د یوشمیر تورنو کسانو دریځ یې نور هم پیاوړی کړ د کاري پلان د تصویب او پلې کیدو سره سره ، ولسمشر کرزی په مخ په زیاتیدونکې ډول د تیر و کړنو د په نښه کولو لپاره لیواله نه ښکاري (هغه په دې وروستیو کې په خپل حکومت کې د جنګي جنایتکارانو په شتون "د یوې پخوانۍ یا منسوخې موضوع" په توګه یې نیوکه وکړه، اوهغه یې د افغانستان دد ښمنانو دسیسه وبلله).[13] نو له دې کبله دا شوني نه ښکاري چې نوی حکومت به د جنګي جنایتکارانو لپاره ښننه او حساب ورکونه په نښه کړي.

که څه هم چې ځینې حکومتونو په خاصه توګه د ناروې اوهالند حکومتونو په عین وخت کې د انتقالی عدالت او د کاري پلان[14]د ارزښت د ښرګندولو په موخه یې نړیوالې کړنلارې په کارولې دي، او که څه هم چې د جنګي جرمونو او په نوروهیوادونو کې د اړوندو ظلمونوپه غبرګون کې د هیڅ څه نه کولو خطرونه له مخکې نه څرګند دي، خو د افغانستان ګڼ شمیر نړیوال ملګرې د جنګي جنایتکارانو لپاره د حساب ورکونې د موضوع په اړه یې په څرګنده توګه چوپتیا غوره کړې ده .[15]

نړیواله مدني ټولنه هڅه کوي څو د انتقالي عدالت موضوع ژوندۍ وساتي. د جنګي جرمونو، پربشري حقونو د تیریو او د ډله ایزو ګورونو د څرګندولو او ساتلو د مستندولو د بهیرسره د مرستې لپاره رواني هڅې د هغو پالیسیو یوه برخه ده چې د پخوانیو کړنو سره مقابله کوي. د تیرو جرمونو یوه کره محاسبه کیدای شي د وا ک څخه د مجرمینو د را پرځولو لپاره یو فشار واردکړي دا کار کیدای شي رسمي فعالینو ته د شرمه ډک اوستونزمن کار وي چې ترې سترګې پټې شي، او د راتلونکو ناوړه کارونو څخه د مخنیوي لپاره پوهاوی لوړوي.[16] نړیوال

[12] د بن د تړون په سیورې کې افغانستان د ژینیو ۱۹۴۹ کنوانسیون؛ د د عامه وژنې ۱۹۴۸ کنوانسیون؛ د جنګي حرمونو او بشري ضد جرمونو د تطبیق نه وړ قانوني محدودیتونو د ۱۹۶۸ کنوانسیون؛ دمدني او سیاسي حقونو په اړه نړیواله لوزنامه؛ د شکنجې او نورو بی رحمیو، غیر انساني سپکونکې چال چلند او یا جزا پرضد د ۱۹۸۴ کنوانسیون، له لارې دې ته اړ دی. افغانستان همدا راز د روم منشور یې د ۱۳۸۲ کال د سلواغې په میاشت کې منلی دی او په پای کې د جرمونو د نړیوالې محکمې تر قضاوت لاندې راغی.

[13] افغانستان واچ، د افغانستان د رسنیو د څارنې دخبر پاڼې۶ ګڼه د ۱۳۸۸ کال د مرغومې د میاشتې۱۰ نیټه، http://www.watchafghanistan.org/files/Newsletter_06_English.pdf.

[14]د ۱۳۸۸ کال د بشر د حقونو د شورا په نړیوالې دوره ای بیا کتنه کې ، ناروې، مکسیکو او مراکش غوښتنه وکړه چې دافغانستان حکومت کاري پلان پلې کوي په داسې حال کې چې د هالند او چک جمهورت د انتقالي عدالت پر اهمیت یې ټینګار درلود. د ۱۳۸۸ کال د تلې په میاشت کې د هالند حکومت آن د قضایي سکټور سره د مالی مرستې څخه لاس په سر شو او د کاري پلان د پلې کولو په برخه کې یې د نه بسیا پرمختګ څخه یادونه وکړه.

[15]بیلګې یې کیدای شي په ۱۳۹۳ کال کې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د اعلامیې له لارې د پخوانۍ یوګوسلاویې لپاره د جرمونو د محکمې جوړول ، چې ورپسې په ۱۹۹۴ کال کې د روندا لپاره د جرمونو نړیوالې محکمې رامینځته کیدل و.

[16](( د مدني ټولنې په هکله وروستۍ رپوټ،)) د انتقالي عدالت او مستندولو ورکشاپ، کابل د ۱۳۸۷ کال د سلواغې د میاشتې له ۲۹ څخه د کب د میاشتې تر ۱ نیټې. نوموړی ورکشاپ د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا اود ICTJ، د آزادې ټولنې د انستیټیوټ (OSI) او د امریکې د سولې د انستیټیوټ (USIP) په مرسته په لاره اچول شوی ؤ،

کار پوهان دډله ایزو ګورونو تثبیت لپاره د کورنۍ وړتیا د لوړولو لپاره مرسته کوي او هڅه کوي چې ددې پلټنه اوساتنه وکړي او ترهغه ځایه چې شونې وي د شواهدو دغیر مسلکي تخریب څخه مخنیوی وشي. کله چې په بدخشان کې د کمونیست دورې یو ډله ایزګورکشف شو نوځایي ټولنې په ناوړه ډول یې وکیندلو چې دې کارد دلي طب ارزونې یې ناشونې کړې.[17] لکه چې یو نړیوال کار پوه څرګنده کړه په داسې یوه هیواد کې چې د باوري حقیقت موندنې په برخه کې لږ هڅې تر سره شوې دي، نړیواله ټولنه د شواهدو په راغونډولواو ساتنه کې مرسته کوي څو هغه وخت چې افغانان دې ته تیارو ي چې د انتقالي عدالت د هغه میکانیزمونو په هکله چې دوی یې غواړي پریکړه وکړي نو دا شواهد به د لاس رسۍ وړ وي.[18]

نړیوالو مرکه شوو څرګنده کړه چې د افغان حکومت او د هغه د نړیوالو ملګرو له خوا څرنګه دانتقالي عدالت سیاسي کیدلو او ګوښه کیدلو د نړیوالې انرژۍ لورۍ یې د حکومت له خوا افغان مدني ټولنې ته واړولو. اوس د ځینو نړیوالو ټولنو مهمه موخه د مدني ټولنې د وړتیا لوړول دي څو دوی وکړای شي په خپله د انتقالي عدالت اجنډا وهڅوي. یوناما، د اروپا د ټولنې پلاوې (EC) او یو لړ غیر دولتي سازمانونو د مدافعې، د رسنیو د پوهاوي او د انتقالي عدالت اړوندو موضوعاتو په هکله د افغان سازمانو د وړتیا د لوړولو په موخه یې بیلابیل ورکشاپونه، بحثونه او روزنیز پروګرامونه طرح ، په لاره اچولي او ورسره یې مرسته کړې ده. دغه نړیوال فعالین که څه هم چې لا تر اوسه د افغان مدني ټولنې له خوا د نه بسیا ملاتړ او دا چې د انتقالي عدالت موضوع ددوی په اجندا کې لوړ ځای نه لري تر نیوکو لاندې دي. د هغوی په اصطلاح موسمي کړنلاره د یو نړیوال فعال په آند مدني ټولنه کمزورې کوي او ددوی باور پردې بهیرراکموي.

## نوی غږ: د افغان مدني ټولنه

په ۱۳۸۸ کال کې د انتقالي عدالت د همغږۍ دډلې (TJCG) جوړیدل، د افغان مدني ټولنې د سازمانو له ۲۰ څخه زیات استازې (CSOs) یې سره راغونډ او د سازمانو دانفرادي نظرد پیاوړې کولو سره یې مرسته وکړه. په دې توګه مدني ټولنې اعتماد د نړیوال ملاتړپه مرسته په مخ په زیاتیدونکې ډول یې وده وکړه او انتقالي عدالت د موضوع د پورته کولولپاره د یوې کړنلارې په توګه د رسنیواو مهمو پیښنو څخه ګټه اخلي. ګڼ شمیرافغاني غیر دولتي سازمانونه اود افغانستان د بشر د حقونوخپلواک کمیسیون د انتقالي عدالت په هکله د پوهاوي دکچې د لوړولو ، د بشر د حقونو څخه دپخوانیو او اوسنیو سرغړونو د مستندولو لپاره کار کوي او هڅه کوي څو دا تضمین کړي چې د جګړو تیرحال او د قربانیانو کړاوونه نه دي هیر شوې. د قربانیانو د ملاتړ شبکو د پوهاوي ټولنې، همدا راز خوځنده تیاتر چې د ښنې د میراث په اړه غبرګونونه هڅوي را مینځ ته کړي، او همدا راز قربانیانو خپلې شخصي کیسې او خاطرې یې ویلې دي چې په ځینو ورځپاڼو او راډیویي خپرونو کې خپرې شوې دي. د افغانستان د بشرد حقونو د خپلواک کمیسیون وروستۍ دمستندولو پروژې د افغانستان په ټولو ولایتونو کې یې د۱۳۵۷-۱۳۸۰ کلونو راهیسې یې د بشر د حقونو څخه سر غړونې

[17] د لیکوال مرکې، نړیوال کارپوه، د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ ۱۶

[18] د لیکوال مرکه، نړیوال کار پوه، د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ دمیاشتې ۱۶.

يې ثبتې کړې دي.[19]

که څه هم چې په عمومي توګه ويل کيږي چې پر دغو هڅو د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې د ډيپلوماتيکو کړيو له خواسترګې پټې شوې دي. افغاني رسنۍ هم د انتقالي عدالت په هکله په پراخه توګه يې چوپتيا غوره کړې ده.[20] همدا راز د رسنيو او د مدني ټولنو د سازمانو تر مينځ د څېړنې ، پوهې او دجګړې په بهيرکې د ملت د تجربو په هکله د خلکو د خبرولو وړتيا محدوده پاتې ده. يوازې لږ شمير سازمانونه هڅه کوي څو د ځانګړوموضوعاتو په هکله لکه د قربانيانو د سمبالونې، مستندونې، د پوهاوي د لوړولو او روزنو په هکله وړتيا لوړه کړي. سر بيره پردې د مدني ټولنې ځينو ځواب ويونکو څرګنده کړه چې د TJCG تر مينځ داخلي ويش او د همغږۍ نشتوالي ددوی د نوښتونو اغيزمنتياوې څه ډول کمزورې کوي.

د مدني ټولنې زياتره نوښتونه په کابل پورې محدود پاتې شوي دي او ولايتونو ته يې پراختيا محدوده ده چې دا تر يوه حده د پراخې نا امنۍ پايله کيدای شي. د يو نړيوال غيردولتي سازمان د مشر د وينا سره سم هغه مهم ګواښونه چې په ولايتونو کې شته په دې مفهوم دي چې هلته د انتقالي عدالت د پراخيدو پلان اوس ځنډيدلی دی .او په دې توګه نړيوالو فعالينو څرګنده کړې چې د افغان او نړيوالې ټولنې د فعالينو لپاره په سيمه او ولايتونو کې د اړيکو د ساتلو لپاره د لارو موندل به يوه دوامداره ننګونه وي.

د مدني ټولنې د سازمانونو (افغان او نړيوال) چې د انتقالي عدالت په اړه کار کوي او د ولت تر مينځ د اړيکو نشتوالې دزياتې اندېښنې وړ موضوع ده. په بنسټيز ډول د پخوانيو جرمونو د په نښه کولو لپاره د سياسي سازمانونو بشکيلتيا او پراختيا ته اړتيا ده. د ا به د هغو فعالينو لپاره چې د انتقالي عدالت له اجنډا څخه ملاتړکوي څو حکومت بيا خبرو اترو ته را وکاږي خورا مهمه ده، آن که چيرې هغه څه چې ددې مسووليتونه دي يوازې پر کاغذ د راوستلو په مفهوم هم وي. ستونزه دا ده چې ددې د تر سره کولو لپارلاره وموندل شي.

## مخ پر وړاندې کتل: بيا پيوستون، بيا پخلاينه او انتقالي عدالت

دحکومت او نړيوالې ټولنې اوسنۍ ټينګارد طالبانو سره د بيا پخلاينې او د هغوی د جنګياليو پر بيا پيوستون دی . ولسمشرکرزي د ۱۳۸۸ کال د مرغومې د مياشتې (۲۰۱۰ د جنوري مياشت) د لندن په کنفرانس کې يې د " ملي پخلاينې او بيا پيوستون د يو اغيزمن، حساب شوې، رانه او باثبات پروګرام" څخه يې پرده پورته کړه چې د هغه بلواګرو لپاره چې دې پروګرام سره يوځای کيږي د کار، ښوونې او روزنې، د تقاعد د حقوقو او ځمکې و ړانديز هم کوي.[21] د حکومت هغه استازې چې په لندن کې يې حضور درلود څرګنده يې کړه چې دوی به له هغه پروګرامونو او پلانونو څخه چې د "سولې د جرګې " لپاره چې د غويي د مياشتې په ۳۰ به جوړه شي تر سره شوې دي چې ورپسې به د کابل کنفرانس هم وي ملاتړوکړي. د بښنې قانون چې د لندن له کنفرانس څخه مخکې مياشت کې څرګند شو، کيدای شي په هره معامله کې يو مهم رول ولوبوي.دا د انتقالي عدالت لپاره څه پايلې درلودلای شي؟ اوس دغه پروګرام دغه موضوع يې نه ده په نښه کړې . په يوازې ډول به په افغانستان کې د بښنې د ناوړه ميراث دتاييدولو په کار کې به پاتې راشي. دې همدا رازد هغو ظلمونو په هکله چې د ۱۳۸۲ کال راهيسې د طالبانو (او بهرنيو ځواکونو) له خوا تر سره شوې دي د جرمونو د نړيوالې محکمې دوامداره غوښتنې يې هم له پامه غورځولې دي. دغه کړنلاره کيدای شي هغو طالب جنګي جنايتکارانو ته اجازه ورکړې څوپرته له دې چې ددوی سره محاسبه وشي خپلو ټولنو ته بيا راوګرځي او پايله به يې د قانون واکمنۍ ته درناوی وي. دا چې آيا دا ډول پاليسي د بيا پخلاينې د مينځ ته راتګ وړتيا به ولري د شک وړ خبره ده تصنيف شوې وي د شک وړ ده. ديوې تلپاتې او رښتينې سولې اوبيا پخلاينې د تضمين لپاره اکثراً د پخوانيو د ښمنانو د چال چلند د بدلون په توګه پيژندل شوي څو د دوه اړخيز باور پر بنسټ نوې اړيکې رامينځ ته کړي. په دې توګه بيا پخلاينه داسې يو بهير دی چې ښايي لسيزې وخت ونيسي. اوسنۍ پاليسي ښايي د جګړې د حل د ستراتيژۍ د يوې برخې په توګه په ښه ډول تشريح شي. د اکيدای شي د سولې او بيا پخلاينې د شرايطو د برابرولو لپاره د پيل ټکی وي، خو دا بايد په پام کې ونيول شي دا ښايي بيا پخلاينه را مينځ ته کړي چې او ږدمهاله پاليسي چې د ټولنو تر مينځ د دوه اړخيز باور او نوې درک د رامينځ ته کيدو لپاره کارکوي له مينځه يوسي. د جګړې د حل د روانې ستراتيژۍ د يوې برخې په توګه د يو نوې پروګرام په هکله بيا فکر کول ښايي په دې هکله چې ددې نيتونه څه دي يو روڼ انځور د رامينځ ته کيدو سره به مرسته وکړي. په افغانستان کې د بښنې د ميرا ث په په نښه کولو کې پاتې راتلل له دوامدارې نا امنۍ سره مرسته کوي. لازمه ده چې انتقالي عدالت بيا په اجنډا کې ځای پر ځای شي. هغه کسان چې له دې څخه ملاتړ کوي بايد نوې لارې چارې ومومي څو د افغان حکومت سره اړيکې ولري او هغه په کې ښکيل شي په داسې حال کې چې پاليسي جوړونکو ته لازمه ده څو د بښنې پايلې د افغانستان د اوږد مهاله ثبات په برخه کې په پام کې ونيسي.

---

[19]د ليکوال مرکه، نادر نادري، د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کميسيون.

[20] افغانستان واچ د رسنيو د څارنې خبرپاڼې د طالبانو سره د خبرو اترو څخه تر انتقالي عدالت پورې موضوعات يې تر پوښښ لاندې نيولې.

[21] د لندن د کنفرانس اعلاميه، http://afghanistan.hmg.gov.uk/en/conference/communique.

طرح و ديزاين: وکيل وسيم